# لمرکتونی:

## د استعمال لپاره بنوونې






## د لمر بشپړه کسوف یا تندر

*دوشنبه، 8 اپریل، 2024*


© 2016-2024
Eclipse2024.org

# TERMS AND CONDITIONS FOR USE OF ECLIPSE GLASSES

**Please read these Instructions for Use carefully before using the Eclipse Glasses. Your purchase and use of the Eclipse Glasses constitutes your agreement to these Terms and Conditions. Failure to follow these Instructions for Use may result in serious personal injury, including permanent eye damage. If you do not understand these Instructions or cannot follow them diligently and completely, then you should not look at the Sun at any time, with or without the Eclipse Glasses.**

The term "Eclipse Glasses" refers to the special cardboard-and-polymer optical products, marked "ISO 12312-2" and "SAFE FOR DIRECT SOLAR VIEWING", manufactured by Rainbow Symphony of Reseda CA or American Paper Optics of Bartlett TN, and sold by Eclipse2024.org for the purpose of viewing the Sun during the solar eclipse of April 8, 2024, by or under the direct supervision of a person 18 years of age or above and in accordance with these Instructions for Use.

Observing the Sun directly, without the benefit of eye protection provided by the Eclipse Glasses, will likely result in serious personal injury, up to and including permanent eye damage and blindness. When these Instructions for Use are followed completely and precisely, the undamaged and unmodified Eclipse Glasses have been proven to be safe and effective in allowing direct, short-term viewing of the Sun. If these Instructions for Use are not followed, or if damaged or modified Eclipse Glasses are used, permanent eye injury could result.

You should never look directly at the Sun, with or without the aid of the Eclipse Glasses, if you have any temporary or permanent medical or other condition which either (1) prevents your use of the Eclipse Glasses according to these Instructions for Use, or (2) which predisposes you to an increased or special risk of incurring, worsening, or contributing to the effects of any optical condition, or other medical, health, or other condition, by looking or attempting to look at the Sun.

You should never attempt to perform any other activity (such as driving or walking) while using the Eclipse Glasses.

You agree that if you allow others to use the Eclipse Glasses, you will provide each such user with a copy of these Instructions for Use and will make sure such user reads and understands the Instructions for Use before using the Eclipse Glasses.

By using the Eclipse Glasses to view the Sun, you agree with the following:

(a) you understand these Instructions for Use completely;
(b) you understand and accept the risks associated with improper use of the Eclipse Glasses;
(c) you accept full responsibility for, and assume all risks associated with, the act of viewing the Sun, with or without the use of the Eclipse Glasses; and
(d) the Eclipse Glasses are fragile, and any damage or modification will render them immediately and permanently unusable for their intended purpose.

Release and Limitation of Liability

By way of purchasing and using the Eclipse Glasses, you are irrevocably releasing, indemnifying, and holding harmless the manufacturer and seller from any liability, loss, claim and expense (including attorney's fees), including but not limited to bodily injury or other personal harm, which may result from using the Eclipse Glasses under any circumstances or conditions and irrespective of jurisdiction. Neither the manufacturer nor the seller will be responsible for any damages of any kind, irrespective of reasons, conditions or circumstances, including malfunctioning of the Eclipse Glasses. All risks associated with using the Eclipse Glasses rest solely and entirely with the user, irrespective of whether the Eclipse Glasses are used by the original purchaser or any third party. You fully understand and assume the risks in using the Eclipse Glasses. You confirm that you have read this release of liability and fully understand its terms and that you have given up substantial rights by purchasing and using the Eclipse Glasses.

THE MANUFACTURER AND SELLER OF THE ECLIPSE GLASSES MAKE NO WARRANTY OF ANY KIND, EXPRESSED OR IMPLIED, WITH RESPECT TO THE ECLIPSE GLASSES, INCLUDING BUT NOT LIMITED TO THE IMPLIED WARRANTIES OF MERCHANTABILITY, FITNESS FOR A PARTICULAR PURPOSE, AND NON-INFRINGMENT. NEITHER THE MANUFACTURER NOR THE SELLER SHALL BE LIABLE FOR ANY OTHER DAMAGES, INCLUDING BUT NOT LIMITED TO DIRECT, INDIRECT, INCIDENTAL, SPECIAL, CONSEQUENTIAL, OR EXEMPLARY DAMAGES, WHETHER IN AN ACTION IN CONTRACT OR TORT (INCLUDING NEGLIGENCE AND STRICT LIABILITY), SUCH AS, BUT NOT LIMITED TO, LOSS OF ANTICIPATED PROFITS OR BENEFITS RESULTING FROM, OR ARISING OUT OF, OR IN CONNECTION WITH THE USE OR FURNISHING OF THE ECLIPSE GLASSES OR THE PERFORMANCE, USE OR INABILITY TO USE THE SAME, EVEN IF THE MANUFACTURER OR SELLER HAS BEEN ADVISED OF THE POSSIBILITY OF SUCH DAMAGES. IN NO EVENT WILL THE MANUFACTURER'S OR SELLER'S TOTAL LIABILITY EXCEED THE PRICE PAID FOR THE PRODUCT.

Note Regarding Translations

Translations of these Instructions for Use into various languages are provided "AS-IS" and solely for the convenience of the reader. Eclipse2017.org has made reasonable efforts to ensure the accuracy of the Translations; however, in the event of any perceived discrepancy in meaning or interpretation between the English version and any Translation, the English version will prevail. You should not act in reliance on anything contained in any Translation of these Instructions for Use, but should refer to the official English version.


*© 2016-2024*
*Eclipse2024.org*


# د لمر بشپړه کسوف/تندر– 8 اپریل 2024

**شمالی امریکا ته پخیر راغلاست!**

زمونږ لپاره دا خبره د فخر وړ ده چې تاسې زمونږ هیواد ته د لمر د بشپړه تندر/کسوف کتنې لپاره راغلي یاست او مونږ غواړو چې تاسې ټول د دې ناشنا نظارې په محفوظه توګه د کتلو جوګه شي.

مونږ ستاسې د اسانتیا په خاطر دا ښوونه په پښتو ژبه کې وړاندې کوو. د دې هدایاتو، ښوونو او منکرتوب ("لارښوونې") د انګلیسی ژبې نسخه لمر ته د نیغ په نیغه کتلو لپاره د لمر کتونې مناسب او صحي استعمال لپاره د معلوماتو او لارښوونې بشپړه ذریعه ده. دغه لارښوونې په *https://tinyurl.com/2024Instructions* وجود لري او د لمر کتونې د استعمال لپاره تاسې باید دغه ولولی، ځان پرې پوهه کړی او تعقیبول یې وکړئ. **د دغه ښوونو نه تعقیبول ستاسې د سر د لوي زیان سبب ګرزیدې شي.**

د آسمانونو د علم پوهان د 8 اپریل، 2024 کسوف "بشپړه کسوف" بلي، ولې ستاسې لپاره چې بشپړتیا وینی، تاسې باید د زمکې په یوه تنګه پټې موجود یاست کومه لار چې د شمالی امریکا نه تیریږې ( چې ورته د "د بشپړتیا لاره" ویيل کیږي). که تاسې په دې لاره نه یاست، نو تاسې به یوازې پلوې کسوف وینی! دې لپاره، دا پیژندل ډیر مهم دې چې آیا تاسې د بشپړتیا په لار یاست او دې لپاره چې به تاسې په کومو طریقو عمل کوې هغه به ستاسې لپاره وړاندې تشریح کړې شي.



د بشپړتیا لار

[د ژر پیل کولو د لارښودنې کتابچه](#) [تفصیلي معلومات](#)

د "لمر کتوني" اصطلاح لکه څه رنګ چې په دې دستاویز کې استعمال شوې ده، د "Eclipse Glasses" لپاره استعمالیږي کوم ته چې په اولنې مخ ورکړی شوي منکرتوب کې اشاره شوی ده یا په دي دستاویز کې په کوم بل یو ځاي کې.

د لمر لیدو لپاره د لمرکتوني استعمال د یوې قانوني موافقې لاندې کول کیږې. تاسې باید په هدایاتو کې ورکړې شوي په بشپړه معلوماتو او لارښوونو په صحي او بشپړه توګه عمل وکړئ چې څه وخت هم د لمر لیدو لپاره د لمرکتوني استعمال وکړی شی. که چیرې تاسې په دغه ښوونو نه پوهیږی یا دغه په صحي او بشپړه توګه نه شئ استعمالولې یا د دې د شرطونو سره نه شئ موافق کیدې نو بیا تاسې ته دا نصیحت او مشوره درکول کیږي چې په څه وخت کې هم او د څه په استعمالولو هم لمر ته د کتلو کوښښ مه کوئ.

# د لمر کتونـي ژر پيل کولو د لارښوونـې کتابچه

دا  ژر پیل کول په پښتو کې د تفصیلي ښوونو د سیټ نه راغونډ کړی شوي دي کوم چي باید تاسي ولولي، ځان پرې پوهه کړئ او د کسوف لیدو لپاره د لمرکتوني په استعمال کې پرې په بشپړه توګه عمل وکړئ .

1) د خپل ځاي موقعیت معلومولو لپاره په eclipse2024.org/find-times کلک وکړئ چي وینئ چي آیا کسوف به دغلته بشپړه وي او دا هم چي په دغه موقعیت کې د پلوي او (که د تطبیق وړ وي)  بشپړه دورانیي به کله ښکاري.

2) بشپړه کسوف یو د لیدو وړ پیښه وي ولې تاسي د دغه تجربې نه د پوره خوند اغستلو لپاره باید د " بشپړتیا په لار" یاست .. کومه چي دوه سوه کلومیتره پلنه ده. که چیرې بشپړتیا ستاسي د لیدو د موقعیت نه په نظر نه راځي نو مونږ دغه ټینګ نصیحت ورکوو چي داسي یو موقعیت ته بدل شي کوم چي د بشپړتیا په لار کې وي!

3) د کسوف لیدو لپاره د لمر کتوني د شیشي مواد نيغ په نیغه د خپلو سترګو لپاسه وساتئ چي په بشپړه توګه نیغ په نیغه لمر ته د کتلو نه په حفاظت یاست.

4) **لمر ته د کتلو لپاره د لمرکتوني استعمال کله پکاردی:**

**الف.** که چیرې ستاسي په ځاي موقعیت کې کسوف بشپړه نه وي نو ټول وخت لپاره یې باید په لمرکتوني کې اوګورئ. تاسي د خپلو سترګو د عمري زیان خطره اخلی که چیرې تاسو د سترګو د مناسب حفاظت نه بغیر لمر ته ګورئ!

**ب.** که چیرې کسوف به ستاسي په ځاي موقعیت کې بشپړه وي نو تاسي به خامخه لمر په لمرکتوني کې ګورئ کې چیرې  د لمر د ککوړي کومه ځلنده برخه هم - تر دې چي یوه کوچني برخه وي - په نظر راځي.

**i.** بیا هم، یوازې د بشپړه کسوف د لنډې وقفې پرمهال، که د لمر د ککوړي کومه ځلنده برخه په نظر نه راځي نو تاسي باید بشپړه کسوف بغیر له لمرکتوني نیغ په نیغه لیدې شی.

**ii.** په حقیقت کې که تاسي د بشپړه کسوف په وخت لمر په لمرکتوني کې د لیدو کوښښ کوی نو تاسي ته به هیڅ په نظر نه راځي.

**iii.** کله چي هم بشپړتیا ختمه شي او د لمر د ککوړي ځلنده برخه ښکاره شي تاسي به خامخه لمرکتوني ته ستنیږئ

5) په نورو لفظونو کې،

**کله چي د لمر د ککوړي ځلنده کومه برخه هم په نظر راځي،**

**تاسې به لمر ته د کتو لپاره خامخه د لمرکتوني استعمال کوئ!**

© 2016-2024
Eclipse2024.org

# د لمرکتونـي د استعمال لپاره تفصيلي ښوونـې

اول، څه اصطلاحات دي چې باید تاسي پرې پوهه شئ!

د هر کسوف او په زمکه د هر ځای موقعیت لپاره نومونه دي کوم چې ځيني مهمو پيښو ته ورکړل شوي دي. دا څه په دې ډول یادیږي:

| د پيښې د ځای نوم | د پيښې تفصیل | دا څه رنګ په نظر راځي (د بشپړه کسوف په وخت) | دا څه رنګ په نظر راځي (د پلوي کسوف په وخت) |
|---|---|---|---|
| C1 | د پلوي مرحلې پیل کیدل |  |  |
| C2 | د بشپړه مرحلې پیل کیدل |  | ** نه واقع کیږي! ** |
| د کسوف منځ | د کسوف منځنی نقطه |  |  |
| C3 | د بشپړه مرحلې ختمیدل |  | ** نه واقع کیږي! ** |
| C4 | د پلوي مرحلې ختمیدل |  |  |

© 2016-2024
Eclipse2024.org



# 1) د لمر کتونـي د استعمال لپاره عمومي ښوونـې

1) [که تطبیقول کیږي] لمرکتوني په احتیاط سره برسیره کړئ.
2) لمرکتوني خوندي کیږدئ کله چې په استعمال کې نه وي.
3) د هر استعمال نه وړاندې د لمرکتوني ځیرل کوئ؛ که د شیشې فلم ته زیان رسیدلی وي یا کاټ کړې شوې وي نو لمرکتوني مات کړئ او بیکاره یې کړئ او د دغه په ځائ یو روغ ترلاسه کړئ.
4) که چیرې د شیشې لینز په څه ډول ناکاره شوی وي، نو چرې هم د لمر کتو لپاره د دغه لمرکتوني استعمال مه کوئ.
5) د لمرکتوني نه د شیشې د فلم مواد مه لرې کوئ او چرې هم لرې کړې شوي د شیشې د فلم مواد لمر ته د کتو لپاره مه استعمالوئ.
6) د لمرکتوني په صحي طور لګولی شوې او روغې شیشې به په نظر راتلونکو خطرناکو رڼاګانو او دغه رنګ د زیان رسونکو یو وي او نورو شغلو د درجو په حفاظت سره مخنیوې وکړي . د دې ښوونو مطابق لمر ته څه وخت هم د کتلو لپاره د لمرکتوني استعمال په کامله توګه محفوظ دی. د کسوف پر مهال دغلته څه مهمې "د کسوف شغلې" نشته کومې چې لمر ته کتل کم یا زیات خطرناک جوړوي.
7) **تاسې باید د دلته ذکر شوې طریقې مطابق د لمرکتوني استعمال وکړئ چې لمر په حفاظت سره وینی کله چې د لمر څه ځلنده برخه څرګنده وي. دا بغیر د اتصال د وخت نه (چې نومونه یې دي "C2" او "C3" لکه چې بره ذکر دي) ربښتیا دي کوم چې تاسې د کومې وسیلې نه ثبت کړې وي.**
8) لمرکتونی د یو ټیلیسکوپ، دوربین، کمرې، لینز، شیشې یا د لیدلو د بلې یوې وسیلې یا الې سره د کومې نه چې رڼا تیریږي یا تمبیږي ("د لیدلو اله") یوځای مه استعمالوئ.
9) دغه رنګ یوه اله هم لمر ته مه نیسئ او چرې هم د لمر عکس ته د لیدلو په الاتو کې مه ګورئ چې لمر ته مخامخ شوې وي یا په څه ډول د لمر رڼا راغونډوي، منعکس کوي یا راتمبوي.
10) ځناور د لمرکتوني استعمال کولو ته مه پریږدئ، یا هر هغه شخص چې د لګ وخت لپاره معذوره شوی وي، د لمرکتوني د محفوظ استعمال په اړتیاوو نه پوهیږي، نه شي لوستلي یا ورسره نه موافق کیږي، یا په قانوني توګه د خپل فعل پایله نه قبلوي، د لمرکتوني استعمال کولو ته مه پریږدئ



11) د لمرکتوني د استعمال لپاره:
لمرکتوني په کامله توګه د خپلو سترګو او لمر ترمنځه ونیسئ او د لمر کتوني د موادو په روغ لینز کې لمر طرف ته ګورئ چې د ټول وخت لپاره د لمرکتوني د لینز مواد په کامله توګه ستاسو د سترګو او د لمر ترمنځه وي. که چیرې لمرکتوني د کارت بورډ چشمو په ډول وي نو تاسې کارت بورډ په داسې طریقه غبرګولې شې چې لمرکتوني په داسې ډول ولګوئ لکه څه رنګ چې روایتي چشمې لګوئ. چرې هم لمر ته مه ګورئ کله چې کسوف بشپړه نه وي (چې د C2 او C3 د وختونو ترمنځه دي او کوم چې به تاسو په لاندې چارټ کې نوټ کړئ، که چیرې دا رنګ وختونه ستاسو د کتلو په ځای موقعیت تطبیقول کیږي)، تر څو چې تاسو د لمرکتوني په روغ لینز کې نیغ په نیغه ګورئ.
12) چرې هم د لمرکتوني په فریم کې د لګیدلي لینزونو چې په اساسي ډول تیار شوي وي نه علاوه کوم یو مواد یا شی لمر ته د کتلو لپاره د سترګو د حفاظت لپاره مه استعمالوئ
13) که چیرې ستاسې د دې ښوونو په هکله څه سوال وي نو مهرباني وکړئ د کسوف Eclipse2024.org سره په https://tinyurl.com/glasses-questions اړیکي ونیسئ.

## *2) د خپل ځاي موقعیت لپاره د خاص کسوف د ښکاریدو د وختونو نده کړه وکړئ*

ستاسو د ځاي موقعیت لپاره په eclipse2024.org/find-times ورکړي شوي معلوماتو په بنسټ لاندیني بیان پوره کړئ.

***زما د ځاي موقعیت لپاره، کسوف دی***

| نیمګړی | بشپړه |
|---|---|

(د یو نه دایره چاپیره کړئ)

| | |
|---|---|
| که ستاسي د ځاي موقعیت په حساب سره کسوف نیمګړی وي نو په هغه ښوونو عمل وکړئ چي وجود لري په<br>"دا کسوف **نیمګړی** دی زما په ځاي موقعیت کې"<br>لاندینی برخه: | که ستاسي د ځاي موقعیت په حساب سره کسوف بشپړه وي نو په هغه ښوونو عمل وکړئ چي وجود لري په<br>"دا کسوف **بشپړه** دی زما په ځاي موقعیت کې"<br>لاندینی برخه: |

## ** دا کسوف بشپړه دی زما په ځاي موقعیت کی **

تاسې د بشپړتیا په لاره یاست او تاسې به د یوې نادره او حیرانوونکی واقعې مشاهده وکړئ! دا معلومول ستاسې لپاره ډېره مهم دي چې ستاسې په ځاي موقعیت کې به بشپړه کسوف کله وي. لاندیني نوټ کړی شوي وختونو ته په رجوع کولو سره به تاسې د داسې کولو جوګه شئ او دا هم چې د بشپړتیا په وخت به د لمر د ککوړي کومه ځلنده برخه په نظر نه راځي.

1) ستاسې د ځاي موقعیت لپاره په eclipse2024.org/find-times ورکړی شوي معلوماتو په بنسټ د لاندیني لسټ کړی شوي د کسوف د هرې یوې واقعې لپاره تخمیني وخت ولیکئ. (د خپلې سیمې د وخت لپاره وخت برابرول یقیني کړئ!):

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| C1 نه وړاندې | *هیڅ کسوف نشته * | |  |  | تاسې باید د لمرکتوني استعمال وکړئ |
| C1 | پلوي مرحله دا وخت پیل کیږي: | |  |  | تاسې باید د لمرکتوني استعمال وکړئ |
| C2 | بشپړه مرحله دا وخت پیل کیږي: | |  |  | د C2 نه ورسته تاسې نیغ په نیغه په خالي سترګو مشاهده کولاي شئ |
| د کسوف منځ | واقع شوی دی: | |  |  | تاسې نیغ په نیغه په خالي سترګومشاهده کولائ شئ! |
| C3 | بشپړه مرحله دا وخت ختمیږي: | |  |  | تاسې باید یو ځل بیا د لمرکتوني استعمال وکړئ |
| C4 | پلوي مرحله دا وخت ختمیږي: | |  |  | تاسې باید د لمرکتوني استعمال وکړئ |
| C4 نه وروستي | * هیڅ کسوف نشته * | |  |  | تاسې باید د لمرکتوني استعمال وکړئ |

2) سره له دې چې تاسې د بشپړتیا په لار موقعیت لرئ، تاسې باید بیا هم د ټول وخت لپاره، د C2 نه وړاندې یا د C3 نه وروستو کله چې کسوف کامل نه وي، لمر ته د کتلو لپاره د لمرکتوني استعمال وکړی

© 2016-2024
Eclipse2024.org

3) تاسي په خالي سترګو نيغ په نيغه د لمر مشاهده کولاي شی (د لمرکتوني نه بغير) يوازي:

a. که چيرې ستاسي په ځاي موقعيت کي کسوف کامل وي (تاسي "د کسوف په لاره" ياست)، او
b. د بشپړتيا پر دوران (ستاسي د ځاي موقعيت لپاره کوم چي تاسي بره نوټ کړي دي د تخميني د C2 او C3 وقفي په دوران کي)، او
c. **کله چي د لمر ځلنده ککوړي سپوږمی په پوره ډول پټ کړی وي.**

د بشپړتيا حقيقي وختونه به ستاسي په ځاي موقعيت ډيره زياته اړه لري او دغه رنګ تاسي بايد د وړاندې نه تخميني وختونه ثبت کړي وي. کوم وختونه چي تاسي بره ثبت کوی هغه تخميني دي.

4) يو ځل بيا، د برني نوټ کړی شوي هر يو وخت نه يا د بهر د کوم سبب نه بي پروا، تاسي به **خامخه لمر ته په لمرکتوني کي ګورئ کله چي د لمر د ځلنده ککوړي يوه برخه په نظر راځي.**

5) د يوهيدو د مرستي په خاطر دا ښووني د ګرافيک واضح کوونکي موادو سره يو ځاي وړاندې کيږې.

---

***تاسي بايد لاندينۍ بيانونه ولولی، ځان پرې پوهه کړی او ورسره موافق شئ:***

د حفاظت سره د استعمالولو په خاطر به زه د لمرکتوني په هکله ټولې ښووني خامخه تطبيقوم

که د لمر د ځلنده ککوړي څه برخه ښکاره وي، نو زه به لمر ته د کتلو لپاره خامخه د لمرکتوني استعمال کوم.

## ** دا کسوف نیمګړی دی زما په ځای موقعیت کې **

تاسي د بشپړتیا په لاره کې نه یاست او تاسي به د بشپړه کسوف د ښکلا مشاهده ونکړې شی (مونږ په ټینګه دا سپارښت کوو چې په دې عجیبه مشاهده کې د برخه اغستو لپاره خپل ځاي موقعیت د بشپړتیا لارې ته بدل کړئ.

1) ستاسي د ځاي موقعیت لپاره په eclipse2024.org/find-times ورکړی شوي معلوماتو په بنسټ د لاندیني لسټ کړی شوي د کسوف د هرې یوي واقعي لپاره تخمیني وخت ولیکئ. (د خپلي سیمي د وخت لپاره وخت برابرول یقیني کړئ!):

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **C1 نه وړاندې** | * هیڅ کسوف نشته * | |  |  | تاسي باید د لمرکتوني استعمال وکړئ |
| **C1** | پلوي مرحله دا وخت پیل کیږي: | |  |  | تاسي باید د لمرکتوني استعمال وکړئ |
| **د کسوف منځ** | واقع شوی دی: | |  |  | تاسي باید د لمرکتوني استعمال وکړئ |
| **C4** | پلوي مرحله دا وخت ختمیږي: | |  |  | تاسي باید د لمرکتوني استعمال وکړئ |
| **C4 نه وروستي** | * هیڅ کسوف نشته * | |  |  | تاسي باید د لمرکتوني استعمال وکړئ |

*(نوټ کړئ چې C2 او C3 وختونه دلته نه دي لسټ شوي ځکه چې کسوف ستاسي په ځاي موقعیت بشپړه نه دی!)*

2) **څه رنګ چې کسوف ستاسي په موقعیت کې بشپړه نه دی نو تاسي به لمر ته د کتو لپاره تل تر تله لمرکتوني استعمالوئ.** یو ځل بیا مونږ دا سپارښت کوو چې د بشپړتیا لار ته لاړ شئ. خپل ځان سره لمرکتوني وړل یقیني کړئ چې تاسي د نیمګړي کسوف په حفاظت سره مشاهده وکړې شئ.

3) د پوهیدو د مرستي په خاطر دا ښووني د ګرافیک واضح کوونکي موادو سره یو ځاي وړاندي کیږي.

---

***تاسي باید لاندیني بیانونه ولولی، ځان پرې پوهه کړی او ورسره موافق شئ:***

د حفاظت سره د استعمالولو په خاطر به زه د لمرکتوني په هکله تولې ښووني خامخه تطبیقوم.

زه به تل تر تله لمر ته د کتلو لپاره خامخه د لمرکتوني استعمال کوم.

© 2016-2024
Eclipse2024.org

PDF

پښتو

GRAN ECLIPSE NORTEAMERICANO

GRANDE ÉCLIPSE NORD-AMÉRICAINE

GREAT NORTH AMERICAN ECLIPSE